# د ماشومانو نړیواله ورځ
# یو تاثر

خان زمان کاکړ

نړۍ ۲۰ نومبر د ماشومانو د نړیوالې ورځې په حېث نمانځي. په دې ورځ د خپل سرنوشت ځغلند جاج ضروري دے. د یو روایت، رسم او یاد په توګه نه بلکې د ماشومانو د مقدمې د وړاندې کولو ضرورت دے. په دې ورځ د ماشومانو د حقونو لپاره د قرارداد او فریاد نه بلکې د مزاحمت یو شعور خورول پکار دي. د این جي او ګانو په ډول د کاغذي جنتونو په ځائے په خپل قامي تحریک کښې په سنجیده بنیادونو د نوي کُول د ژوند د تشکیلِ نو لپاره مبارزه باید چې مرام وګرځي.

په داسې وطن کښې د ماشومانو نړیواله ورځ چرته چې مکتبونه وران او مقتلونه ودان وي او د خودکُش نسل د افزائش ټرېننګ سنټرونه پرېمانه او فعال وي. نۀ پوهېږم له کومه د خبرې سر راونیسم؟ د جنګ، جنون، جبر او جارحیت په سپوري زېږېدلي او روزل شوي ماشومان، د درېو لسیزو په خوني طوفان کښې بهېدلي ماشومان او د محنت او مشقت خولو خوړلي ماشومان چې د دوي د نړیوالې ورځې په مناسبت یادؤ، سوال راپېدا کېږي چې مونږ د نړۍ برخه یُو هم کۀ نۀ؟ دا نۀ وایو چې زمونږ د ماشومانو آواز مغرب ته ولې نۀ رسي. له مونږ سره خپل مشرق څۀ وکړل؟ زمونږ ماشومان هم دلته د عقیدو حُرمت ته لوګي شوي، د محنت په چکۍ کښې دل شوي او جسماني او ذهني اذیتونو ئې خوړلي دي.

مونږ د جهالتونو، مرګونو او محرومیتونو په تیارو کښې اوسېدونکي خلق یو. مونږ نسلونه په دې تیارو کښې روزلي او خوړلي دي. میاندو ماشومان لوئے کړي، پردیو وطنونو له، پردیو چوپړونو له، چې ماشومان وي له تیارو نه ویرېږي، چې بالغان شي له رڼا ویرېږي. هم دا مو بدمرغي ده. ماشومان مو اذیتونه او مشقتونه تېروي، بالغان مو مصلحتونه کوي. چرته چې د مزاحمت نېستي وي، هلته کښې به نسلونه د محرومیت او محکومیت خیري خوري. ماشومانو ته په میراث کښې د مفاهمت او مصلحت سوغاتونه ډالۍ شي، د غلامو نژادونو د نجات لپاره د بغاوت ورثه د ماضي نه حال ته حواله کول غواړي. مونږ ته په ورثه کښې کتابتونونه چا پرېښودل، د مورچلونو او بدیو تودو ساتلو وصیتونه مو د هر مشر نسل سره غوټه دي. کشر نسل دا تسلسل دوامداره ساتي. دا ننګ، غېرت او مېړانه ده. له دې نه انحراف کم اصلي او بې ننګي ده. دا خو نن د دېرش کلنې ترخې تجربې نه پس کېږي چې یو ماشوم دې "امن" ونومول شي او یوه ماشومه "صلحه". مونږ په څومره ماشومانو سربازان او توریالیان نومونه کېښودل، څومره مو د

عربو او پنجابیانو په نومونو یاد کړل او ځومره مو د جهادي رهبرانو او قوماندانانو په مبارکو نومونو مبارک کړل. زمونږ ماشومانو ته خپل سرنوشت په وینو سور وررسېدلے دے. له پلنو هدیرو سره بلد دي. د افغانانو ماشومان په بدخونده مهاجرتونو کښې زېږېدلي او لوئے شوي دي. انصارو ورله په کچه ماشومتوب کښې د ماشومتوب تقدس وهلے دے. د زرغونپوښو په تعلیمي نصاب کښې د ماشومانو سره د مینې او شفقت نصیحت آموزي پرېمانه ده. خو د افغان ماشومان ئې په هر وخت کښې د بوټ پالش وړ ګڼلي دي، د کاغذونو بوجۍ ئې ور په شا کړې دي او په سپېرو سړکونو ئې ورباندې شپې سبا کړې دي. زرغونپوښي اخلاقیات هم له دې ځایه سرچینه اخلي. د دوي اخلاقیات د استبداد او جبر خیرې د تقدس په جامو کښې نغښتل دي.

وئیل کېږي چې په یو ملک کښې د بهتر یا ناقص نظام اندازه هلته کښې د ماشومانو د حالت نه په ښه توګه لګي. د ورځنیو اخبارونو بیانونه او تصویرونه د پاکستان د مقدس نظام په سرخېلانو پوري ملنډې کوي. چرته کښې یوه مور د لوږې له کبله ځان د خپلو ماشومانو سره کوهي ته غورځوي او چرته کښې بله مور د نهر نهور ماشومانو د چغو



له کبله د زهرو بوتل په لاس ولاړه وي. چرته کښې یو پلار د یو لوئے ښار په چوک کښې له خپلو ماشومانو سره ولاړ وي او د هغوي په سرونو ئې په پېچلو ټوکرانو لیکلي وي (د خرڅېدلو لپاره) او چرته کښې بل پلار د چا غټې سړې د دفتر مخې ته د احتجاج په ډول ځان ته اور اچوي. د ایدهي سنټر په ډول ځومره خېراتي ادارې په بې شمېره لاوارثه او بې وځله ماشومانو ډکې دي؟

دا یوه حتمي خبره ده چې تر څو په ټولنه کښې د چائلډ لېبر لعنت موجود وي، تر هغو هره دعوٰي او وعده دروغ، د هرې ترقۍ راز بې معنٰی او د هر انقلاب خوب سراب دے.

په پاکستان کښې تازه ترین سرکاري تفصیلات دا دي چې په ملک کښې ۳۳ لکه ماشومان له جبري مشقت سره مخامخ دي. خو هیومن رائټس کمېشن آف پاکستان دا تعداد د یو کروړ نه هم سېوا یادوي. په دې کښې ۷۰ فیصده له درېو شعبو زراعت، ماهي ګیرۍ او ځنګلاتو سره وابسته دي. له دې نه علاوه عربو ملکونو ته د اوښانو د منډې لپاره د ماشومانو سمګلنګ، د جنسي فعالیتونو او نشه ایزو شیانو د سمګلنګ لپاره د هغوي استعمال ځان ته بېخي پراخه زړۀ چاودونکي موضوع ده. په قبائلي سیمو او پښتونخوا کښې چې ماشومان په کوم دوزخ کښې وساتل شول د هغې د تفصیل بیانولو ته لفظونه عاجز دي. له جنت نه تر هجرت پورې، له سکول نه تر مقتل پورې....!!

د ماشومانو د حقونو په حواله یو غېر سرکاري تنظیم SPARC وائي چې په پاکستان کښې د ماشومانو حالت ورځ په ورځ د خرابېدو په

لور روان دے. په پاکستان کښې د ماشومانو د حقونو په حواله د مقامي او بین الاقوامي قوانینو هیڅ پاسداري نۀ کېږي. د SPARC په حواله په پاکستان کښې د ترهګرۍ په فعالیتونو کښې د ماشومانو استعمال تر خطرناک حده پورې زیات دے. SPARC په خپل رپورټ کښې د ماشومانو په حواله د تېر کال کلیکټ شوې ډېټا داسې وړاندې کوي چې تېر کال په پاکستان کښې د چائلډ لېبر او ټریفکنګ، په ماشومانو د جنسي او جسماني تشدد، قتل، اغوا او خودکُشۍ په مجموعي توګه ۶۷۸۰ پېښې رپورټ شوې دي، چې پکښې ۴۲۵۱ هلکان او ۲۵۲۹ جینکۍ شاملې دي. رپورټ په ماشومانو د تشدد په حواله صوبه پنجاب سرفهرست یادوي، چې پکښې ۳۷۷۲ پېښې رامنځته شوې دي. په سندھ کښې ۲۴۱۲، په پښتونخوا کښې ۴۹۸ او په بلوچستان کښې تر ټولو کم ۹۸ پېښې رامنځته شوې دي. رپورټ په بلوچستان کښې د تېر کال د زلزلې او په پښتونخوا کښې د لویې نقل مکانۍ د اثراتو ذکر هم کوي او د دې تر څنګ د مېډیا د خونړیو واقعاتو د عکاسۍ اغېز هم یادوي. دې ټولو ماشومان physically او mentally له ګڼ شمېر ستونزو سره مخامخ کړي دي. مېډیا په لاشونو د لاشونو غورځولو لوبه خو هره لمحه تووده ساتي. خو چرته د مینې، محبت، اینجوائمنټ او یو وړوکے سین وړاندې کول ورته لویه بداخلاقي ښکاري.

ماشومان صرف په نصیحت آموزو او تبلیغي تعلیماتو یو روښانه مستقبل نۀ شي موندلے. ماشومان د یو ډېر لرې مابعدالطبیعیات په ویره کښې ښکېلول د هغوي مستقبل خرابول دي. د ماشومانو رشته باید له ژوند سره په فطري بنیادونو استوار شي. د هغوي د تخلیقي صلاحیتونو روزنه او کارونه پکار ده. هغوي له سائنس، فلسفې او فنون لطیفه سره مشغولول پکار دي. مدرسه کلچر مونږ ته مقلد نسل راکوي. په تاریخ کښې د مقلدینو کوم مثبت رول نۀ دے تر سترګو شوے. مقلدین مطلق د غلامۍ سره په رضا ژوند تېرولو ته غاړه ږدي او په فکري تورتمونو کښې ذهني تسکین مومي. د پاکستان تعلیمي نصاب هیڅ د ذهنونو د تعمیر په پروسه کښې مرسته نۀ کوي. دا نصاب له قراردادِ مقاصد نه سرچینه اخلي کوم چې د پاکستان مکمل ضابطۀ حیات ګڼلے شي. دا نصاب ذهني مفلوج نسلونه پېدا کوي، تاریخي شعور ورانوي، ځکه چې د پاکستان تاریخ له هندو دښمنۍ نه راټوکېږي. فرقه ایز او ډله ایز سوچ د پاکستان په تعلیمي نظام کښې له شپېتو کلونو غوړېږي. تنکیو ماشومانو ته د جنګ او جهاد قصیدې وئیل کېږي. نصاب ته محدود ماشومان کله هم په ځان کښې د خود اعتمادۍ صلاحیت نۀ شي ډېولپ کولے. په

د ماشومانو رشته باید له ژوند سره په فطري بنیادونو استوار شي. د هغوي د تخلیقي صلاحیتونو روزنه او کارونه پکار ده. هغوي له ساینس، فلسفې او فنون لطیفه سره مشغولول پکار دي.

ماشومتوب کښې ورپېرزو شوي احساس محرومۍ ورسره ټول عمر غوټه وي.

زمونږ د نوي کُول په وړاندې هر وخت د غالبې طبقې اخلاقيات خنډونه ايجادوي، د تجسس او پلټنې نه ئې راګرځوي، د سوال، شک، ضد او انکار جرأت پکښې شنډوي. د اناطول فرانس په قول "اخلاقيات د يوې ټولنې د استبدادونو او تعصباتو ټولګه وي".

د دې پردې دېوال سايې له ځانه پردي کړي يو. مکتب پردے، کتاب پردے، تاريخ پردے، د تاريخ کرېکټرونه او اتلان پردي، ژبه پردۍ، محسوسات او نفسيات پردي دي. په دې پرديو خرمستيو کښې معلق نسل مې د پرديو مفاداتو ضامن دے.

بايد چې دا حقيقت په پرانستو سترګو او پراخه سينه درک شي، چې يوائې د جديدو رجحاناتو نه برخه من نسل په مستقبل کښې د قامي ژوند د جديديت په عمل کښې راسره مرسته کولے شي. د دې مقصد لپاره ماشومان د محدوديت (Limitation) د زندان نه ازادول غواړي، هغوي بايد خپلې خوښې او مخې ته پرېښودل شي. د والټېر خبره "په خپله رڼا کښې تګ پکار دے". زمونږ ماشومان بايد خپله رڼا ولري او په خپله رڼا کښې د تګ صلاحيت!! د موجودو رويو او رواياتو په حقله د غور او فکر جسارت پکار دے. په خپله رڼا کښې تلونکے نسل کله هم د هغو تُورو پوجا نۀ شي



کولے کومې چې د هغوي په سينو ښخېږي او کله هم



په هغو لاسونو بېعت نۀ شي کولے کوم چې د هغوي په مرۍ چاړه راکاږي. زمونږ د مبارزې نسل بايد چې په خپله رڼا کښې د تګ په صلاحيت برخه من نسل وي. څوک چې تخليقي ذهنونه لري، هغوي مو د جديديت او نوښت د سفر اتلان ګرځېدلے شي. څوک چې تنقيدي شعور لري، هغوي جمود ماتوي، د فکر په ولاړ ډنډ کښې ډېرې خوشې کوي او د بدلون عمل ته لارې هواروي. په اوسني عصر کښې ماشوم ته د ژوند لومړنۍ لار د سائنس په مخه ورکول دي، چې د اوهامو او توهماتو د ماتونې لپاره سمدستي چمتو شي. فلسفه بايد د نوي نسل د ژوند نۀ بېلېدونکې برخه وي، چې د تجسس او پلټنې حس ئې د پياوړي نفسياتي قوت حامل وګرځي او د کائناتو، فطرت، ژوند، خدائے او انسان له نوي سره د تشريح عمل پېل کړي. په دې حقله په ټولنه کښې د تشکيک پسندۍ رجحان په ژوند کښې نوې لارې او نوې رڼاوې راپېژني.

د ماشومانو نړېواله ورځ د خپلو ضميرونو د احتساب ورځ ده. تاريخ څرګنده فېصله غواړي. د خپل مستقبل د بدلولو عمل فيوچرسټک اپروچ غواړي. مونږ بايد د ماشومانو او نوي نسل په حقله په فيوچرسټک نقطۀ نظرغور وکړو.